نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۴/۱۲/۲۵

# د دانګام جګړه، د هوايي ځواک نشتوالی او د ولس چيغې

موږ مخکې هم ويلې ؤ اوس هم وايو چې بهرنيانو ته هر افغان خپل دښمن ښکاري، امريکا نه په افغان اردو، نه پر افغان پوليس او پر اربکيانو خو بيخې باور نه لري، له طالبانو او اسلامي حزب (حکميار) سره خو ۱۳ کلونه عملاً په جګړه بوخت دي.

دا ډول پر بې ګناه افغان ملکي وګړو يې په ډېرو مواردو کې بمبارد کړي، د شپې يې کورونو ته ننوتلي، په ودونو او جرګو يې هم بمبارد او راکټي بريدونه کړي.

د افغانستان د ملي دفاع وزارت لوی درستيز شيرمحمد کريمي په اسلام آباد کې د پاکستان له لوی درستيزي راحيل شريف سره ناست ؤ (۲۳ ډسمبر ۲۰۱۴)، له دې مخکې هم لوی درستيزانو ترمنځ په کابل کې دوه ځله ناستې شوې.

افغان حکومت يو خوا وايي چې پاکستان ورسره د طالبانو په په ځپلو کې يوه خوله شوي، د ډيورنډ دواړو غاړو ته به په ګډه د افغان او پاکستاني طالبانو لټون کوي .

بل خوا بيا کورنۍ رسنۍ راپوروونه ورکوي چې د دانګام په جګړه کې پاکستانيان او نور بهرنيان له افغان طالبانو سره يوځای د افغان اردو او د سيمې د پاڅونوالو په مقابل کې جګړه کوي.

له دې مخکې له کندهار څخه هم ورته راپوروونه ورکول شول چې پاکستان د افغان طالبانو سره مرسته کوي.

دلته ضد او نقيض خبرې او راپوروونه دي، که افغان دولت او پاکستان په ګډه د دوی په اصطلاح د ترهګرۍ ځالي په نښه کوي، بيا نو ولې د پېښور په پېښه کې پاکستان پر افغان حکومت او د دانګام په جګړه کې افغان حکومت د پاکستان پر لور ګوته ورانيوي.

جګړه بده وي، جګړه زور لري، هغه سېمه سوزي چې د جګړې اور پرې بل وي، زه د دانګام په هغو ماشومانو، نجونو، پېغلو، ميرمنو او سپين ږيرو خفه يم چې د ژمي په يخو شپو او ورځو کې به اور نه لري، خوراکي مواد به نه لري، او ډول ډول ستونزې به لري.

له کورونو څخه به ميرمنې او ماشومان بې ځايه شوې وي، سپين ږيري او سپين سرې به ناروغ وي، درمل او تود ځای به نه لري.

کاشکي په دغه ساړه ژمي کې دغه جګړه نه وای پيل شوې، ځکه په ژمي کې ستونزې ډېرې وي، دوبې او پسرلی بيا هم ښه وي، هواء سمه وي، که خلک د کورونو پرېښودلو ته اړ شي ستونزه خو وي ولې د اوس په ډول نه وی.

داچې هلته کورنۍ بې ځايه شوي، ماشومان او ميرمني بې ځايه شوې، ځينې به يې د جګړې د ړاندو راکټونو او بمباريو له ويرې وتلي وي، ولې زه باور لرم چې هيڅ مسلمان به ښځو او ماشومانو ته هيڅ ډول زيان او تکيف ونه رسوي.

رسنۍ بې پرې نه دی، کاشکي يې ترمونږ د جګړې سم احوال را رسولای، نن مې يو راپور وليد چې:

طالبانو ۵۰ کورونه سوځولي او دهغوئ سامانونه يې لوټ کړي، پاکستان ته يې اړولي دي، ۵۰ ملکي خلک ژوبل شوې، او ۶ ملکي کسان وژل شوي، دا ډول ۱۵۱ طالبان وژل شوې او ۱۰۷ ژوبل شوي، خو په مقابل کې يو افغان عسکر وژل شوي او ۴ زخميان شوې.

که رښتيا هم تر اوسه يو افغان عسکر وژل شوې وي، بيا خو جګړه بالکل د افغان حکومت په ګټه ده، دوی ولې بيا د خپلې کمزورې خبره کوی، او داچې کورونه لوټل شوي، سامان يې پاکستان ته وړل شوې، په داسې حال کې چې خلک له کورونو نه شي وتلای، بيا به دا مست خلک څوک وي چې سامانونه په غلا پاکستان ته قاچاق کوي.

افغان اردو ته ناټو او آيساف د ايټاليا څو زړې الوتکې ورکړي، چې په ترميم يې تر قيمت ډېر مصارف راتلل، له همدې کبله اردو هغه نيم جوړې الوتکې ځينې يې کباړ او ځينې يې په ګودامونو کې ودرولي.

اردو له دې هم شکايت لري چې دوی موډرن او پرمختللي وسلې نه لري، امريکا ورته هغه وسلې نه ورکوي چې د دوی په ښه راشي، داسې وسلې ورکوي چې هغه د جګړې پر مهال وړ نه دي.

د دانګام جګړه له لسو ورځو واوښتله، تر اوسه هم هغه کلي چې طالبانو نيولي حکومتي قواوې ورته نه دي ننوتلي. له دې مخکې د سنګين ولسوالي کې ورته جګړه وشوه، چې افغان امنيتي ځواکونه تر اوسه هم د خپلو ناسمو وسلو څخه سر ټکوي، او نه دي توانيدلي چې د جګړې سېمه له وسلوالو طالبانو څخه پاکه کړي.

د حکومت دفاع وزارت د بمبارد کونکو الوتکو د نشتون څخه سر ټکوي، وايي چې هوايي ځواک نه لري، نو ځکه به د دانګام جګړه اوږده شي.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د کورنيو چارو وزارت بيا ادعاء کوي چې د امنيتي ځواکونو ترمنځ همږغي نشته، ځکه جګړه اوږده شوه.
طالبان بيا وايي چې موږ ته اوس ښه موقع په لاس راغله، ښه شو چې حکومت هم د الوتکو له نشتون سره مخ دي (پخوا د ناټو او آيساف الوتکو د افغان امنيتي ځواکونو ملاتړ کاؤ)

افغان ولس ته بيا د اردو او ملي دفاع وزارت دغه څرګندوني د قناعت وړ نه ښکاري، ولس وايي چې که طالبانو بمبارد لرونکې الوتکې او چورلکې درلودلای، بيا د جګړې د اوږديدو له پاره ستاسي پورته دليل لږ څه د قناعت وړ ؤ، اوس چې طالبانو هم پرمختللې وسله نه لري، الوتکې نه لري، منظم پوځ نه لري، او پر تاسي ناټو ديارلس کلونه پوره خواري وکښله، محاربوي زده کړي يې درکړي، منظم تمرينونه کوئ، بهرنو هيوادونو کې مو پوځي زده کړي ترلاسه کړي، د نړيوالو اقتصادي مرستي مو حيف او ميل کړي، بيا نو کوم عامل دي چې جګړه نه شئ ګټلای.

ولس وايي که د کومې لويې پروژې خبره وای چې پيسې پکې وای، بيا خو به هر جنرال هغه ځای ته ځان رساؤ، نن ولي دانګام ته نه شي ورتللای، يواځي د کنړ په مرکز اسعد آباد او يا د دانګام ولسوالي مرکز ته مشران نمايشي سفرونه کوي.

د دانګام د جګړې اصلي عوامل او دغه جګړه د چا په ګټه تماميږي؟

په لومړيو ورځو کې ځينې انځورونه خپاره شول چې خلک په کليوالو جامو کې د افغانستان اوسنی بيرغ په لاس په غرونو کې په طالبانو پسي ګرځي، دا ډول له دي سره د ګوتو په شمير ځينې يونيفورم لرونکي عسکر هم ليدل کيدل. دغې جګړې ته نوم د دانګام د خلکو جهاد د طالبانو په مقابل کې ورکول شو.

زما په آند چې د جګړې اصلي عاملين د دانګام د هغو کليو چې د جګړې اور پکې بل دي د دغه قوم هغه خرڅ شوې مشران دي چې خپل ولس يې له دغه ډول ناورين سره مخ کړ، اوس که په ولسې جرګه کې وکيله صاحبه ژاړي هيڅ فايده نه لري، مخکې به دغو ښاغلو د خپل قوم پر حالت رحم او غور کړی وای.

موږ چې کله د ډاکټر نجيب د حکومت له نسکوريدو وروسته خپل کلي او کور ته راغلو، نو له مشرانو مې څو ځله اوريدلي د جهاد د وخت هغه قومندان ته به يې دعاوي کولي چې خپلمنځي دښمني يې نه ده راته پريښودلي، له هيڅ ګوند او ډلې سره يې زموږ ولس ونه جنګاؤ

زه وايم چې همدغه د سېمې څو په شمار کسان او په نوم مشران ډير ناپوه خلک دي، او بيا ځوانان خو نه پوهيږي هغوئ يې خطا ايستلي او جګړې ته يې په دغه غرنۍ او نامنه سېمه کې هڅولي دي. ترڅو دغه ناپوه په نوم مشران د پيسو په مقابل کې خپل ولس له دغه ډول ناورين سره مخ کړي، حکومت هم چې کله دغه ډول جګړه کيږي ښه تبليغات ورته کوي، ولي کله چې اربکيان او د دوی په اصطلاح پاڅونوال له ستونزو سره مخ کيږي بيا نو د هغوئ هيڅ غور نه کوي، همدا کار د اندړو د پاڅونوالو (اربکيانو) سره وشو، ورته کار د زابل له اربکيانو سره وشو، اوس دادی دغه د غم ټادر د دانګام په خلکو ويړ دی.

چيرته دی هغه دولت پلوی حاجي چې ويل يې موږ به تر مرګه جنګيږو، ولي يې خپل ولس يواځي پريښود، چيغې وهی چې ماسره دولت مرسته نه کوي، آيا ته ډير زور ور يې او يا ډير ناپوه يې؟ ته نه پوهيږي چې تر ۴۰ د زياتو هيوادونو پوځيانو او د بي ۵۲ الوتکوبمبارد وسلوال مخالفين ورک نه کړل، او ته په يواځي سر د څو کليو په احساساتي ځوانانو جګړه کولای شي.

زما دواړو لورو (وسلوالو طالبانو او افغانا حکومت) ته وړانديز دی چې په ساړه ژمي کې عام ولس له ستونزو سره مخ نه شي، د دانګام د هغو کليو چې جګړه په کې روانه ده ټول وګړي يې نه له دولت او نه هم د طالب سره دي، لږ شمير به له دولت سره وي او لږ شمير به يې له طالبانو سره مرستندوی وي، مګر ستونزې به پکې هغه چاته رسيږي چې نه د وسلوالو طالبانو او نه هم له دولت سره ملګري وي، يواځې د خپل کورنۍ او اولاد له پاره نفقه پيداکوي

بيا هم اصل خبرې ته راځم، د ملي اردو، ملي پوليسو او محلي پوليسو ځوانانو او مشرانو ته په کارده چې پر دي ژور فکر وکړي چې بهرنيان زموږ مرستندويان نه دي، هغوئ خپلې ګټې لري، او خپلو ګټو له پاره کار کوي، نه تاسي ته جوړې او سمې الوتکې درکوي، نه تاسي ته چورلکې او سم ټانکونه درکوي او نه هم پرمختللې وسله درکوي، يواځې غواړي چې په دغو زړو وسلو مو له يوې ډلې افغانانو سره وجنګوي.

طالبانو ته په کار ده چې د اردو، پوليسو او اربکيانو په ځينو مجبوريتونو ځان خبر او پوه کړي، دواړه لوري هڅه وکړي چې د افغانستان د راتلونکې اړوند سم او وړ فکر وکړي.

افغان ولس ته په کار ده چې احساساتي ځوانان د ځينو نا پوهو مشرانو په خوله د جګړې اور ته وانه چوي، خپل ژوند په بې طرفه ډول پر مخ يوسي. او هغه مشران چې د دوی په سېمو کې د جګړو اور ته لمن وهي، د دي پر ځای چې ولس له سېمو څخه وايستل شي، ښه به وي چې دغه تش په نوم د کوم لوري پلوی مشر له سېمې څخه وايستل شي.

په دانګام کې دماشومانو، نجنو، ميرمنو او سپين ژيرو ملکي افغانانو بيرته کورته د ستنيدو په هيله، په دي هيله چې دغه جګړه په دغه ساړه ژمي کې ودريږي، او ملکي افغانان خپلو کورونو ته ستانه شي.

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ